PRESS INFORMATION
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

فساد ځان بسیاینې ته د رسیدلو په لاره کې د افغانستان پر مخ یو خنډ دی

کابل، 2 می 2017

نن د اروپایي ټولنې پلاوي خپل د 2017 کال د فساد پر ضد رسنیز کمپاین چې د مارچ په 12 مه پیل شوی وه پای ته رسیږي.

په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مایکل میلبن وایی: " زمونږ کمپاین د فساد پر ضد مبارزې ته شدت ورکړي ده. د تیرو دوه میاشتو په لړ کې د فساد پر ضد د مبارزې په برخه کې یو لړ بحثونو او خبرې ترسره شوی. په داسې حال کې چې د افغانستان دولت د نړیوالې ټولنې په مرسته په دغه برخه کې ستر ګامونه پورته کوي پدې هم توافق شتون لري چې نور هم باید کار وشي. فساد نا امني زیاتوي او د سولې هڅو ته چې دغه جګړه ځپلې هیواد ورته کلونه انتظار ایستلې دي زیان رسوي. اروپایي ټولنه په دغه برخه کې د افغانستان خلکو او دولت څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. "

ټاکل شوې ده چې د اروپایي ټولنې د فساد پر ضد دریم کلنۍ کنفرانس " په افغانستان کې د فساد سره د مبارزې تشدید" تر نامه لاندې د مې د میاشتې په اتمه نیټه د ولسمشریز په مانۍ کې ترسره شي. نومورې کنفرانس به د افغانستان جمهور رییس جلالتمآب محمد اشرف غنی او په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي فرانز مایکل میلبن په ګډه کوربه توب ترسره شي. په دغه کنفرانس کې به زمونږ د رسنیز کمپاین په ټولو برخو باندې خبرې وشي.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره:

د اروپایي ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کیل اندرسن
د رسنیو او عامه اړیکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ایمیل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu